United Nations
Educational, Scientific and
Cultural Organization

Organisation
des Nations Unies
pour l'éducation,
la science et la culture

# مطبوعاتي اعلاميه

## له افغانستان سره د ليك لوست زده کړې د پياوړتيا په برخه کې د جاپان لخوا ۱۹.۵ مېليونه ډالره مالي مرسته

### يونسكو او د پوهنې وزارت د ليک لوست زده کړې د پياوړتيا پروګرام (ELA) دويم پړاو پيلوی

۲۰۱۰ د مارچ ۹ نېټه: د جاپان حکومت په افغانستان کې د ليك لوست زده کړې د کچې د پياوړتيا د دويم پړاو لپاره له يونسكو سره ۱۹.۵ ميلونه ډالره مرسته کوي. په افغانستان کې د ليك لوست زده کړې د پياوړتيا پروګرام د پوهنې وزارت په همکارۍ د يونسکو لخوا تطبيقيږي، چې ۳۰۰۰۰۰ تنه ځوانان، لويان او په ځانګړي توګه کليوالې ميرمنې تر پوښښ لاندې راولي.

د پروژې د پرانیستنې رسمي مراسم نن د پوهنې وزارت په ودانۍ کې د پوهنې د وزير ښاغلي فاروق وردګ، د جاپان هېواد سفير ښاغلي شيګې يوکي هيروکي او د يونسكو دفتر مشر شيګيرو آويوکي سره په رسمي ډول لاسليك شو. د مراسمو په لړ کې ښاغلي اويوکي په افغانستان کې د نالوستۍ د له منځه وړلو په برخه کې د جاپان هېواد د دوامداره مرستو او پدې لړ کې د پوهنې وزارت د پوره هڅو ځخه مننه وکړه.




په افغانستان کې د نيږدې دريو لسيزو جګړو له کبله ډېرو خلکو ونشواى کولاى، چې زده کړې وکړي. ځکه خو په هېواد کې يوازې ۳۴%  لوستل او ليکل کولاى شي، چې دا په نړۍ کې د نالوستۍ ترټولو لوړه کچه ده. د هېواد په لېري پرتو سيمو کې له ۱۰ ښځو څخه يوازې يوه ليکل او لوستل کولاى شي. په اوسني وضعيت کې د ليك لوست زده کړې د آسانتيا برابرول، د سولې په راوستو، د دموکراسۍ په پلی کولو او د افغان ولس د پرمختګ په برخه کې د پام وړ رول لري.

د افغانستان د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې ملي ستراتېژيك پلان (NESP) جوړ کړی، په دې ملي ستراتيژيك پلان کې ليك او لوست زده کړې ته لومړيتوب ورکړل شوی او ليک لوست زده کړه د افغانستان د پرمختګ او بيا رغونې اساس ګڼل شوی.

د پوهنې وزارت، د ښوونې او روزنې په ملي ستراتېژيك پلان کې ټاکليو موخو ته د رسېدو لپاره، په افغانستان کې د ليك او لوست د پياوړتيا پروژې (ELA) لومړی پړاو د ۲۰۰۸ کال د مارچ په مياشت کې د جاپان په مالي مرسته پيل شو. اوس مهال دغه پروګرام د افغانستان په ۹ ولايتونو: (بدخشان،بلخ، باميان، دايکندی، غور، ننګرهار، سمنګان، پکتيکا او وردګو) کې د پلي کېدو په حال کې دی.

د پروګرام د پيل څخه تر ۳ کلونو پورې ۳۰۰۰۰۰ تنه ځوانانو او لويانو لپاره د زده کړې موکه برابريږي. تراوسه پورې ۹۲۰۰۰ تنه د ليك او لوست زده کړې له ۹ مياشتنيو کورسونه څخه برخمن شوي دي. سربېره پردې د پروژې په لومړي پړاو کې د ولسواليو او د ولايتونو په مرکزونو کې د ليك او لوست زده کړې د مرکزونو (مديريتونو) د ودانيو د جوړولو کار دوام لری، چې د پوهنې وزارت د ليك او لوست زده کړې د معينيت د تشکيلاتی ودې په موخه په ۳ ولايتونو کې بشپړ شوی دی.

په ۲۰۰۹ کال کې، د پوهنې وزارت (د ښوونې او روزنې ملي ستراتېژيك پلان) نوی کړ او همدارنګه د يونسکو او نورو اړونده ادارو په مرسته (د ليك لوست زده کړې ملي کاري پلان) ترتيب شو. څرنګه چې د ښوونې او روزنې ملي ستراتېژيك پلان په پام کې لري، چې د (۱۵ کلنو څخه د لوړ عمر لرونکو) د لوستوالۍ کچه په سلو کې ۴۸ (ښځينه ٪۴۳ او ٪۵۴ نارينه) لوړه کړی. ددې لپاره به تر ۲۰۱۴ /۱۳۹۳ کال پورې ۳.۶ ميليونه نالوستو (چې ۶۰ په سلو کې ښځې وی) ځوانان او لويان لپاره د ليک لوست زده کړې کورسونه جوړ کړي.

(د ليك لوست زده کړې ملي کاري پلان) د ليك او لوست زده کړې په برخه کې د دولت، دونرانو او ټولو اړونده دخيلو ادارو لپاره د هغه لارښود او عمومی ملي ستراتېژۍ ساری لري، چې ليک لوست زده کړې د پروګرامونو د اغېزمن تطبيق لپاره مهم دی.

د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې ملي ستراتېژيك پلان او د ليك لوست زده کړې د ملي کاري پلان له موخو سره سم په افغانستان کې د ليك او لوست د پياوړتيا پروژې (ELA) دويم پړاو د هېواد ۹ نور ولايتونه تر پوښښ لاندې راولي، چې عبارت دي له: (بادغيس، فراه، غزنی، خوست، کنړ، نيمروز، نورستان، ارزګان او زابل) او ۶ ولايتونه چې له لومړي پړاو څخه يې ترخپلو فعاليتونو لاندې نيولي دي. په دغه پړاو کې ۳۰۰۰۰۰ نالوستی کسان د سواد له زده کړې څخه برخمن کيږي او د سواد زده کړې ځينو فارغينو ته به حرفوي او مهارتي زده کړې هم ورکول کيږي.

ليك او لوست د بشر اساسي حق ګڼل کېږي، چې پدې سره کولای شي د ټولنې په ټولنيزه، اقتصادي او سياسي برخه کې ګډوره ونده واخلي، د بې سرپرسته وګړو لپاره د ليك لوست زده کړې موکه برابرول، په هېواد کې د سولې په راوستلو کې مهم رول لري، په افغانستان کې د ليك لوست زده کړې د پياوړتيا پروژه (ELA) د خپل لومړي او دويم پړاو په عملي کولو سره، په افغانستان کې سوله باوري کوي، د وګړو ژوند ته وده ورکوي او په ټول هېواد کې د ټولنو پرمختګ ته لار هواروي.

**د لا ډېرو معلوماتو لپاره په لاندې پته اړيکه ونيسی:**
محمد امين صادقی د يونسکو د عامه معلوماتو مسئول،کابل
a.sadiqi@unesco.org
+۹۳(۰) ۷۹۹۱۲۵۲۹۲
www.unesco.org/kabu